# جیمی کارتر ته د میرمن تره کی د لیک متن

کابل- د هغه لیک متن چی د افغانستان د خلکو د دموکراتیک گوند د مرکزی کمیتی د لومړی عمومی منشی د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا د پخوانی رییس او صدراعظم اروا ښاد نور محمد تره کی ماندینی محترمی میرمن تره کی د امریکا د متحدو ایالاتو د جمهور رییس جیمی کارتر په نامه و اشنگتن ته لیږلی دی.

**د امریکا د متحدو ایالاتو جمهور رییس جلالتماب جیمی کارتر!**

لکه څنگه چی تاسی ته څرگنده ده د ۱۳۵۷ کال د ثور په میاشت کی زما په گران افغانستان کی خلقی انقلاب وشو. بی شکه تاسی خبر یاست چی انقلاب د افغانستان د خلکو د دموکراتیک گوند په مشری د ملی وسله وال پوځ له خوا چی زما میړه اروا ښاد **نور محمد تره کی** د هغه له جوړیدو څخه د هغه مشر وو سرته ورسیده. د ثور انقلاب د خلکو د مطلق اکثریت په گټه تطبیق شوی وو، او له دی امله طبعاً زما د گرانو وطنوالو له زیاتی مینی او هیجان سره مخامخ شو.

له انقلاب څخه په وروسته موده کی د ۱۳۵۸ کال د سنبلی د میاشتی تر پایه پوری زما میړه د دولت قانونی مشر یعنی د نوی او سمسور افغانستان د جوړولو په خاطر په نه ستړی کیدونکی ډول د انقلابی شورا د رییس په توگه هید ډول هلی ځلی نه وی سپمولی. خو د سنبلی په میاشت کی توطیه کوونکی او مرتد امین په ډیرو ممکنو پلمه ناکو چلندونو لاس پوری کړ په خیانت او ناولتوب یی زمونږ په هیواد کی قدرت په خپل لاس ونیو، هغه زما میړه چی زه دا یو ځل بیا تکراروم، د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت قانونی مشر وو وواژه او زمونږ ټوله کورنی او زه په خپله یی ویروونکی شکنجه ځای ته واچولو.

www.esalat.org

PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

**ښاغلی جمهور رییس!**

د ا چې تاسې هلې  لې کوې چې د جنایتکار او سرې وژونکي امین دفاع وکړې د ټولو صادقو او وجدان لرونکو افغانانو د کرکې او غوسې وړ گر ی.

تاسې خپل  ان ته اجازه ورکوې چې هغه د افغانستان د قانوني جمهور رییس په توگه وبولې. ستاسې دغه وینا زما د میړه نور محمد تره کي خاطره چې د امین او د هغه د جلادانو په لاس وژل شوی وو رسوا کوی. هغه د زرگونو وطنپالو افغانانو او د خپل وطن د آزادۍ او نیکمرغۍ په لاره کې د بې گناهو مجاهدینو د خاطرې په نسبت چې د هغه په لاس زوریدلي او شکنجه شوي وو له سپکاوي پرته نور څه نشو بللی.

له بده مرغه ما په خپلو سترگو ددغه وینه څښونکي باند تباه کوونکي کارونه ولیدل چې آن په ښځو او ماشومانو یې رحم نه کاوه.

زه په خپله او زما نژدې خپلوان د هغو کسانو په ډله کې وو چې د امین او امینیانو له جنایت سره مخامخ شول. او اوس چې د مکافات وخت را رسیدلی دی او هغه گوند چې زما د شهید میړه په لاس جوړ شوی وو او شرافتمند هلکان او نجونې او زموږ د گران هیواد افغانستان ټول افغاني وطنپال یې د جنایتکارانو له سلطې څخه خلاص کړل، تاسې د هغو کسانو دفاع کوې چې خلگ ترې کرکه کوي او تو لعنت پرې وایي.

**ښاغلی جمهور رییس!**

ولې تاسې هغه وخت پټه خوله واست چې هغوی زما میړه یعنې د افغاني آزادو خلکو قانوني جمهور رییس یعنې هغه څوک یې په رذیلانه توگه ووژه چې په خپل ټول ژوندانه کې یې د وطنوالو د نیکمرغۍ او لاندې راتلونکي په لاره مبارزه کوله.

www.esalat.org

PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com

ولی تاسی ښاغلی جمهور رییس خپله ننني اندیښنه هغه وخت څرګنده نکړه چې انسان وژونکی او خاین امین رښتینی افغانی وطنپال، سپین ږیری او ښځی او ماشومان جیل ته ټیل وهل، زورول یی او وژل یی.

زما د ویاړ او سرلوړی ای دادی چې زموږ زامنو زما د شهید میړه نور محمد تره کی شاګردانو او د امر دوام ورکوونکو د آزادی مشال یو ل بیا روښانه کړ او زموږ په کورنی کی یی عدالت اعاده کړ.

دوی تل د خپلو محرومو خلکو د نیکمرغی په لاره کی مجادله کوله، او خلکو د هغوی ننګه کوله او په هغوی باندی باورلری او له هغوی سره به تر وروستی سلګی پوری د وطن او انقلاب د دفاع لاره ووهی.

**ښاغلی جمهور رییس!**

په موږ افغانانو باندی آزادی سوله، خپلواکی له خپل ژوند څخه ډیره ګرانه ده او دیته چمتو یو د هغی د پاره خپلی وینی تویی کړو. موږ خپل کور منظم کوو. او غواړو چې هیڅوک په هغه لاره کی خنډ نشی چې موږ د خپل پرمختګ دپاره ټاکلی ده.

موږ ستاسی د هیواد په نسبت دښمنی نه لرو، او دښمن نه یو، برعکس د ا ستاسی حکومت دی چې د ټولو هغو کرغیړنو او تورو طاقتونو پټه او ښکاره ننګه کوی چې زموږ په خلاف فعالیت کوی.

زه باور لرم هغه کار به چې د هغه د پرمختګ په لاره کی زما میړه شهید شو په بری سره تطبیق شی او نیکمرغی او سمسورتیا به زړورو افغانی خلکو ته ور په برخه شی.

**نور بی بی تره کی**

حقیقت انقلاب ثور، پنجشنبه ۲۰ جدی ۱۳۵۸

**ترتیب کوونکی: ع . ق . فضـــلی**

www.esalat.org

PDF gemaakt met pdfFactory Pro probeerversie www.pdffactory.com